## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

# د کورونا خپرېدل د پانګوالۍ او د پانګوالۍ د نظامونو له چټلیو څخه پرده پورته کوي

لکه څنګه چې نړۍ د کورونا له ویروس سره لاس او ګرېوان ده، کینیا هم د نورو حکومتونو په څېر د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره هڅې کوي. په کینیا کې تر اوسه پر دې ویروس د اوو کسانو د اخته کېدو پېښې ثبت شوې او کومه د مرګ پېښه نه لري.

حزب التحریر- کنیا غواړي لاندې ټکي روښانه کړي:

۱ـ د کوویډ ۱۹ خپرېدو د نړیوالو رسنیو ډېر پام ځانته اړولی او په خبري رسنیو کې په دې اړه خورا ډېره وېره خوره ده. که رښتیا هم نړۍ له وبا سره لاس او ګرېوان وي، موږ باید په سوریه کې د نېږدې نهو کلونو جګړې د هېرولو پر ناروغۍ اخته نه شو؛ دا تر ټولو ویجاړوونکې بشري ناورین دی چې کابو ۷۰۰،۰۰۰ تنه یې د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ کړي. د سوریې رژیم دا ظم د امریکا او روسیې په مرسته ترسره کوي او رسنیو ته هېڅ خبري ارزښت نه لري!

۲ـ دا چې وقایه تر درملنې غوره ده، نو موږ له ټولنې څخه جدي غوښتنه کوو چې ژر تر ژره احتیاطي تدابیر ونیسي؛ لاسونه ومینځي او هغو سیمو ته له تګ راتګ څخه ډډه وکړي چې هلته د دغې ناورغۍ پېښې ثبت شوې دي. اسلام پر لومړنیو تدابیرو نیولو ټینګار کوي او خپلو پیروانو ته د الله سبحانه و تعالی د ازمېښت او امتحان مفهوم وړاندې کوي،. کله چې دا ډول پېښې، پېښېږي؛ د الله سبحانه و تعالی د امتحان په سترګه ورته وګورئ، چې په پایله کې د صالحانو لپاره رحمت او ځینو نورو ته -چې د الله تعلی خوښه وي- عذاب دی ...

**«عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا «سَأَلَتْ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُونِ، فَأَخْبَرَهَا أَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللهُ تَعَالَى عَلَى مَنْ يشَاءُ، فَجَعَلَهُ اللهُ تَعَالَى رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ، فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ فِي الطَّاعُونِ، فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ»**

ژباړه: «عایشه رضی الله تعالی عنها روایت کوي چې هغې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د طاعون په اړه پوښتنه وکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: طاعون یو داسې عذاب و چې الله سبحانه و تعالی به چاته وغوښتل پرې اخته کاوه یې، خو الله سبحانه و تعالی دا د مومنانو لپاره نعمت ګرځولی دی. څوک چې

(د مومنانو په منځ کې) پر هغه ځمکه چې هلته رنځ رامنځته شوی دی صبر کوي او فکر کوي چې هغه هېڅ شی هم نه شي کولای مگر هغه څه چې الله سبحانه و تعالی وغواړي، الله سبحانه و تعالی به هغه ته د شهید په څېر اجر ورکړي.» [بخاري]

د احتیاط او پاملرنې په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَخْرُجُوا مِنْهَا»**

ژباړه: «که چېرته تاسو واورئ چې پر یوه ځمکه باندې طاعون راغلی، هلته مه ورځئ. که چېرته تاسو هلته وئ نو له هغه ځای څخه د باندې مه ځئ.»

۳ـ دا ویروس نوی پیدا شوی او درملنه یې هم ښایي څو میاشتې ونیسي. په هر صورت، دا مهمه ده چې د پانگوالۍ نظام پر څرنگوالي پوه شو، په دې کې هېڅ شک نشته چې دغه نظام، دغو ناورینونو ته د پیسو لاسته راوړلو د سرچینې په سترگه گوري. د درمل جوړولو د اوسني صنعت موخه یوازې د واکسینو له تولید او پلور څخه پیسې لاسته راوړل دي. دوی ته د واکسینو -چې اوږدمهاله اغېزه لري- په پرتله د دایمي ناروغیو درمل - چې هره ورځ اخیستل کېږي- ډېره گټه رسوي.

۴ـ د کووېډ ۱۹ ویروس په پایله کې د ډېرو هېوادونو د اقتصاد لړزېدل نه یوازې د پانگوالۍ ایډیالوژۍ کمزوري څرگندوي، بلکې د دغه ایډیالوژۍ د اقتصادي نظام کمزورتیا او ناکامي هم څرگندوي چې پخپله ناورینونه ډېروي. دا په حقیقت کې د غنې کمزوري کور ته ورته ده! دا باید د پوهانو او عاقلانو سترگې پرانیزي چې د پانگوالۍ په له منځه وړلو سره د ریښتینې ایډیالوژیک بدلون لپاره کار وکړي او پر ځای یې اسلام حاکم کړي چې غښتلی اقتصادي نظام لري.

۵ـ اسلامي امت، چې کله له دې ناورغۍ سره مخ کېږي، باید پر الله سبحانه و تعالی توکل وکړي او ورسره جوخت تدبیر ونیسي، درملنه او پاملرنه وکړي. پر الله سبحانه و تعالی توکل کول د مسلمانانو یو له سترو فضیلتونو څخه دي چې دوی له الله سبحانه و تعالی پرته له بل هېچا وېره نه کوي او په ژوند کې تل پر هغه سبحانه و تعالی توکل کوي.

٦ـ پر پرمختللې عصري ټکنالوژۍ سربېره، د خلافت دولت به وکولای شي داسې چاپېریال رامنځته کړي چې څېړنه او پرمختگ وده پکې وکړي. د درمل جوړولو کمپنۍ به تمویل کوي چې د درملنې لپاره د واکسینو جوړولو او څېړنو ته وده ورکړي. خلافت په روغتیایي برخه کې د دې لپاره پانگونه نه کوي چې گټه او پیسې ترې ترلاسه

کړي، بلکې دا د دولت مکلفیت بولي.  رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې چې عبیدالله بن محسوان الانصاري روایت کړی، فرمایي:

**«مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا»**

«څوک چې سهار له خوبه پاڅي، په خپل ځای کې د ارامۍ احساس ولري، صحتمند وي او د همغې شپې او ورځې لپاره خواړه هم ولري، داسې دی لکه ټوله نړۍ چې له هر څه سره ورکړل شوې وي.» [ترمذي]

**شباني موالیما**

**په کینا کې د حزب التحریر مطبوعاتي استازی**

۱۴۴۱هـ.ق کال، د رجب ۲۴مه

۲۰۲۰م کال، د مارچ ۱۹مه

د صدور ګڼه:  ۱۴۴۱/۰۸